# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**15حمل_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


لغمان کې د بیا مېشتېدنې ولایتي کمېټې دولسمه ناسته وشوه ---------------------------------------------------------1

والی ولایت جوزجان، با معاون کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان ملاقات نمود -----------------------------------1

ایران ځخه سلګونه مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه هېواد ته راستانه شول -----------------------------------2

بیش از ۱۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود -----------------------------------------------------2

ننګرهار کې سلګونو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه ---------------------------------------------------------------2

یونان: مدیترانه کې تر ۷۰ ډېر کډوال لرګینه کښتۍ کې موندل شوي ---------------------------------------------3

البانیا: ترافیکي پېښه کې د ۷ کډوالو په ګډون ۸ تنه وژل شوي -----------------------------------------------5

انجمن شهرداری ها و نواحی خواستار ادغام سریع و بهتر پناهندگان اوکراینی اند ---------------------------------7

شکایت مهاجران اخراج‌شده افغان از بدرفتاری پولیس ایران ---------------------------------------------------7


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## لغمان کې د بيا مېشتېدني ولايتي کمېټې دولسمه ناسته وشوه

د وزارت ويب سايت




په لغمان ولايت کې د بيا مېشتېدني ولايتي کميټې دولسمه ناسته د وري ۱۳مه د لغمان ولايت د مقام په مشرۍ او د اړوندو ادارو د مسولينو په شتون کې وشوه.

د مهاجرينو چارو رييس مولوي غلام الرحمن بلال د ناستې له ګډونوالو سره د نويو کورنيو د ستونزو، غوښتنو، شمېر او د ترسره شويو مرستو په اړه معلومات شريک کړل.

ورپسې د دولتي او نړيوالو بنسټونو مسولينو په خپل وار سره خبرې وکړې او د خپلو نظرياتو او معلوماتو له څرګندولو وروسته يې له جبري راستنېدونکو کورنيو سره د مرستې رسونې په موخه اړين تصميمونه ونيول.

## والی ولایت جوزجان، با معاون کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان ملاقات نمود

ویب سایت وزارت




**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

قاری گل حیدر شفق، والی جوزجان، با خانم تیرهاس بیرهی، معاون کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان در افغانستان، بتاریخ ۱۳ حمل در دفتر کارش دیدار نمود.

در این دیدار که ملا امان الله طلحه، رییس امور مهاجرین آن ولایت نیز حضور داشت، والی جوزجان از همکاری کمیشنری در راستای خدمت رسانی برای مردم آن ولایت از قبیل اعمار سرپناه، جغل اندازی سرک ها، اعمار مکتب ، حرفه های کوچک و توزیع مساعدت های وجه نقدی قدر دانی نموده و خواهان همکاری های بیشتر شان در سال روان میلادی شدند.

خانم تیرهاس از همکاری و هماهنگی مقام ولایت و ریاست امور مهاجرین ستایش نموده از همکاری اش درآینده اطمینان داد.

## ایران څخه سلګونه مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه هېواد ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

په ایران کې مېشت ۹۸۳ مهاجرین د وري ۱۳ مه نېټه د هرات د اسلام کلا له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.

د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، په یاد کسانو کې کورنۍ هم شاملې وې، چې ۳۵۷ تنه يې اړمن وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي يې ترلاسه کړل او ۳۰بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه وارچايلډ موسسې ته ور وپېژندل شول.

## بیش از ۱۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

۱۲۰ تن مهاجر افغان به تاریخ ۱۳ حمل از خط فرضی تورخم به کشور برگشت نموده اند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۲۴ خانواده که شامل ۱۲۰ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت دراداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## ننګرهار کې سلګونو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**په ننګرهار ولایت کې پرون د وري ۱۳ مه نېټه له ۵۰۰ راستنو شویو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه.**

**دغه کورنۍ وړاندې هلته سروې شوې وې، چې د اسلامیک ریلیف موسسې له لوري او د مهاجرینو ادارې په څارنه او ملتیا هرې کورنۍ سره د ۲۰ زره افغانیو په ارزښت نغدي مرسته وشوه.**

## یونان: مدیترانه کې تر ۷۰ ډېر کډوال لرګینه کښتۍ کې موندل شوي

مهاجرنیوز




**د یونان ساحلي ځواکونه وايي چې د مدیترانې په اوبو کې یې په یوه لرګینه کښتۍ سپاره ۷۴ کډوال موندلي او کرېټ ټاپو ته یې انتقال کړي دي. دا وروسته له هغه چې د یونان حکومت پرون دوشنبه د کرېټ او ګاوډوس له ټاپوګانو سره د مالي او بشري مرستو ژمنه وکړه.**

**د یونان ساحلي ځواکونو د دوشنبې په ورځ د اپریل په لومړۍ نېټه وویل چې مدیترانه سمندرګي کې یې له یوې لرګینې کښتۍ څخه لسګونه کډوال ژغورلي دي. دغه کډوال د یونان کرېټ ټاپو ته لېږل شوي دي چې په تېرو څو وختونو کې له لیبیا څخه د ورتلونکو کډوالو له څپو سره مخ دی.**

**دا کښتۍ چې ۷۴ کډوال پکې سپاره ول د یکشنبې په شپه د ګاوډوس ټاپوګي په ۴۶ کیلومترۍ کې وموندل شوه. ساحلي ځواکونو زیاته کړې چې د دغو کډوالو په ډله کې چې د یوناني چارواکو یوې کښتۍ کرېټ ټاپو ته انتقال کړل یوه ښځه هم شامله وه.**

**تر اوسه دا نه ده څرګنده چې دغو کډوالو له کوم ځای څخه خپل سفر پیل کړی او د کومو هېوادونو وګړي دي. د موندل شویو کسانو روغتیایي وضعیت ښه بلل شوی دی. یاد کسان یوه لنډمهاله سرپناه کې ځای پر ځای شوي دي.**

**په ورته مهال د یونان محافظه کار حکومت د دوشنبې په ورځ د کډوالۍ نوو څپو ته په کتو سره له کرېټ او ګاوډوس ټاپوګانو سره د مالي او بشري مرستو ژمنه وکړه. د یونان د کډوالو چارو وزیر دیمتریس کیریدیس سیمې ته د سفر پر مهال وویل: «کرېټ زموږ لومړیتوب دی... نه هغه او نه ګاوډوس چې یو کوچنی ټاپو دی او نفوس یې ډېر کم دی یوازې نه پرېښودل کېږي ».**

**دا هم ولولئ**

**<u>یونان: د روان کال له پیل راهیسې تر ۱۰۰۰ زیات کډوال د یونان ګاوډوس ټاپو ته اوښتي</u>**

**ګاوډوس ته د اوښتونکو کډوالو شمېر زیات شوی**

**ګاوډوس هغه کوچنی ټاپو دی چې د یونان د کرېټ په جنوب کې موقعیت لري او دمګړۍ د کډوالۍ له څپو سره مخ دی. د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو ادارې د شمېرو له مخې، په تېرو درېو میاشتو کې ۱۱۸۸ مصري، پاکستاني او بنګله دېشي وګړي**

ګاودوس ته اوښتي دي. یوازې د مارچ په ۱۳مه ۹۱ کډوال په کښتیو کې یاد ټاپو ورسېدل. د ځايي رسنیو د راپورونو له مخې، یوه اونۍ مخکې ۲۸۰ تنه نور ګاودوس ته رسېدلي وو.

دغه ټاپو ۳۰ کیلومتره مربع پراخوالی او ۷۰ اوسېدونکي لري چې په ډله کې یې یوازې دوه ماشومان کورنۍ شته. د ګاودوس ښاروالۍ لیلیان ستېفاناکي په خبره، د یاد ټاپو پاتې نور اوسېدونکي بوډاګان دي چې ډېری یې یوازې ژوند کوي.

همدارنګه یاد ټاپوګی یوازې یو ښوونځی، یوه نانوايي او دوه مغازې لري. څو ورځې مخکې یونان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري ویاندې ستېلا نانو کډوال نیوز ته ویلي وو چې ګاودوس کې د هرکلي مرکز نشتوالی تر ټولو لوی مشکل دی. نوموړې زیاته کړې وه چې دوی د یونان له مرکزي او ځايي چارواکو سره په اړیکه کې دي او کډوالو ته لومړنۍ اسانتیاوې لکه کمپله، بسترې او روغتیايي وسایل ورکوي.

که څه هم ډېری دغه کډوال بلافاصله کرېټ او ورپسې مرکزي یونان ته استول کېږي، خو د ستېلا نانو په وینا خرابه هوا کې یې له ګاودوس څخه د کډوالو انتقال ممکن نه دی.

دا هم ولولئ
<u>ملګري ملتونه: د کډوالۍ پر لار له نیمايي ډېر کډوال په سمندر کې مړه شوي</u>

## البانیا: ترافیکي پېښه کې د ۷ کډوالو په ګډون ۸ تنه وژل شوي

مهاجرنیوز



© Armando Babani/AP PHOTO/picture alliance


د البانیا امنیتي سرچینې په یوه خبرپاڼه کې وایي چې نن سه شنبه سهار وختي له یونان سره پولې ته څېرمه ترافیکي پېښه کې د ۷ کډوالو په ګډون ۸ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د وژل شویو کډوالو هویت لا نه دی څرګند .

د البانیا پولیسو د یوې خبرپاڼې په خپرولو ویلي دي چې نن سه شنبه سهار وختي، د اپریل دویمه، له یونان سره پولې ته څېرمه ترافیکي پېښه کې د ۷ کډوالو په ګډون ۸ تنه وژل شوي دي. په خبرپاڼه کې راغلي دي چې پېښه هغه مهال رامنځته شوه چې د موټر چلوونکي، چې د البانیا تبعه دی، هڅه وکړه د تلاشۍ له یوې پوستې وتښتي، خو له یونان سره پولې ته نږدې پرمېټ سیمه کې یې کنټرول له لاسه ورکړ.

د لومړنیو معلوماتو له مخې، د البانیا د امنیي ځواکونو یوې ډلې غوښتل چې دا موټر تلاشي کړي، خو د موټر چلوونکي له پولیسو د تېښتې هڅه وکړه چې له امله یې موټر ویوسا سېند ته ولوېد.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې ده چې وژل شوي کډوال د «منځني ختیځ» دي او مونټېنګرو او ورپسې نورو اروپايي هېوادونو ته د تګ په موخه له یونان څخه البانیا ته دننه شوي وو.

دا هم ولولئ
<u>اروپا ته پر لارې بالکان مسیر د نوم ورکو مهاجرو مړي</u>



ویوسا سېند د یونان پولې ته نږدې موقعیت لري. انځور: ګوګل مېز

د بالکان پر لار پېښې

البانیا د بالکان پر لار پروت هېواد دی چې له مونتېنګرو، کوسوو، شمالي مقدونيې او یونان سره ګډه پوله لري. هر کال د افریقا، مرکزي اسیا او منځني ختیځ سلهاوو زره وګړي د جګړو، ناامنیو او وزګارۍ له امله پر دغه لار اروپايي هېوادونو ته د راتګ هڅه کوي.

د اروپا د پولو د ساتنې ادارې یا فرانټېکس د شمېرو له مخې، د ۲۰۲۳ له جنورۍ څخه تر اکتوبر میاشتې پورې شاوخوا ۱۰۰ زره کډوال د بالکان پر لار اروپايي ټولنې ته د ننوتلو هڅه کړې ده .

دا لومړۍ ځل نه دی چې کډوال د بالکان پر مسیر خپل ژوند له لاسه ورکوي او یا له غمجنو پېښو سره مخامخ کېږي. بلغاریا د بالکان یو بل هېواد دی چې هلته هم کډوالو چې افغانان هم پکې دي په ورته پېښو کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د ۲۰۲۳ کال په فبرورۍ کې <u>د ۱۸ افغان کډوالو مړي</u> په بلغاریا کې له یو کامیون موټر څخه و موندل شو. دغو کډوالو هڅه درلوده چې ځانونه اروپايي ټولنې ته ورسوي.

## انجمن شهرداری ها و نواحی خواستار ادغام سریع و بهتر پناهندگان اوکراینی اند

مهاجرنیوز

انجمن نواحی و شهرداری ها می خواهند تا ادغام پناهندگان اوکراینی سرعت قابل توجهی داشته باشد و دوره های ادغام و آموزش زبان برای این گروه از پناهندگان موازی با شروع کار باشد.

انجمن نواحی و شهرداری ها خواستار ادغام بهتر اوکراینی های پناهنده شده اند. آندره برگگر مدیر عامل انجمن روز دوشنبه که عید پاک مسیحیان بود به روزنامه های گروه رسانه ای فونکه گفت: «برای استفاده واقعی از پوتانسیل برای بازار کار ما، ما باید روند ادغام را در آلمان به طور قابل توجهی شدت بخشیم. ما هنوز در مورد ادغام در بازار کار بسیار بروکرات و انعطاف ناپذیر هستیم. شروع کار بدون نیاز به گذراندن دوره های زبان و ادغام باید امکان پذیر باشد «.

برگگر خواستار تدابیر ادغام و فراگیری زبان موازی با شروع کار است. او می گوید که این امر"نیاز به پیشنهادات مناسب در مقیاس کافی دارد".

برگگر به این باور است که روند دوره های ادغام بسیار کند است. او گفت: «ما در اینجا نمی توانیم فقط از کلمات گرم استفاده کنیم، بلکه باید تامین مالی کافی و پایدار تضمین شود«.

برگگر خاطرنشان کرد که بیش از ۱،۱۵ میلیون پناهنده از اوکراین در آلمان اقامت دارند. اینها شهرداری ها را با چالش های بزرگی از نظر اسکان، عرضه و ادغام مواجه کرده اند. او به روزنامه های فونکه گفت: «ما باید خود را برای این واقعیت آماده کنیم که پناهندگان از اوکراین همچنان به سمت ما می آیند. در حال حاضر انتظار نمی رود که اکثر اوکراینی ها در آینده نزدیک به کشور خود بازگردند. بنابراین ما به ساختارهای ادغام پایدار برای این گروه از پناهندگان نیاز داریم«.

## شکایت مهاجران اخراج‌شده افغان از بدرفتاری پولیس ایران

طلوع نیوز

به گفته‌ی آنان، پولیس ایران پس از بازداشت و لت‌وکوب مهاجران افغان، آنان را به اجبار به کشور بر می‌گرداند.



برخی از مهاجران افغان اخراج‌شده از ایران، از آن‌چه که بدفتاری پولیس این کشور می‌دانند، شکایت دارند.

به گفته‌ی آنان، پولیس ایران پس از بازداشت و لت‌وکوب مهاجران افغان، آنان را به اجبار به کشور بر می‌گرداند.

نورالله و دوستانش که به تازگی از ایران اخراج شده‌اند، می‌گویند با آن‌که بارها از سوی ایران به گونه اجباری به کشور برگشت داده شده؛ اما چالش‌های اقتصادی و بی‌کاری او را واداشت تا دوباره به آن کشور برگردد.

نورالله اخراج‌شده از ایران در این باره می‌گوید: «رفتم دوباره که کار داشتم، کارهایم را تا حساب هایش را انجام بدهم. من را گرفتند و بردند اردوگاه. ما را آن جا بردند و پاسپورت‌های ما را گرفتند و گفتند فردا آزاد می‌شوید. فردا ما را آزاد نکردند و بیست روز ما را توقیف کردند. در بیست روز نه آبی و نه نانی».

ایمل اخراج‌شده دیگر از ایران گفت: «شب آمدند ده دوازده نفر ما را بسته کردند بردند اردوگاه و چهار پنج شب اردوگاه بودیم. خیلی بدبختی است ایران، رفتنش یک جنجال است، آمدنش جنجال دیگر».

از سویی هم، وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان می‌گوید که در یک روز گذشته، سه هزار مهاجر افغان از مرز اسلام قلعه و نیمروز به کشور برگردانده شده‌اند.

عبدالمطلب حقانی سخن‌گوی این وزارت می گوید که معاون اداری ریاست‌الوزراء در دیدار با سرپرست وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان، از رسیدگی به چالش‌های مهاجران اطمینان داده است.

**آقای حقانی در این باره گفت: «با فرا رسیدن بهار و بعد از عید شاید بسیاری از خانواده‌ها به خواست خود و به‌شکل گروهی به کشور برگردند. آقای ملا عبدالسلام حنفی، هم اطمینان داد که همه این چالش‌ها با مقام رهبری شریک شده و اعضای کابینه هم در تلاش هستند تا سهولت‌ها را برابر کنند«.**

**پیش از این رسانه‌های ایرانی به نقل از مدیرکل اتباع خارجی کرمانشاه ایران گزارش داده‌اند که براساس یک طرح، همه مهاجران غیرقانونی از این کشور اخراج خواهند شد.**

خبرنامه